هیو

# مولوي د روح د سفیر په توګه

کله چې د شمس له دریڅې د نور او صوت اقیانوس پر مولانا واورېد؛ نو د فقهې او مدرسه‌يي پوهې او مسلک پنډو دیوالونو یې اور واخست، او د «زه» له ایرو یې مولانا جلال الدین رومي راووت، چې د عشق بې رنګه ببرغ یې د کالبوت پر خاورین معبد ودراوه.

دا د زده کړې، روزنې، ریاضت وېستلو (ادب) او ( اخلاقو) د صفر شبېه وه. او ستر رومي د ټولو زړو مفاخرو او عناوینو له بار او انبار څخه سپین او لوڅ راووت. هغه د عشق ناره ګډه کړه او ددغه نوي او تازه غږ په سپین اور کې تاو راتاو شو، وڅرخېد او د خدای او فردي روح ترمنځ موهوم دیوالونه یې راوغورځول؛ دننه ننوت. هغه د عشق په هېواد کې په خپل اقلیم واوښت. اوس نو هغه د هویت پنډ ضخامت څټ ته پرایښی وه. هغه د «عشق قمار» کې په سپین مېدان یوازې سر پاتې شو. شمس نور تللی و، چې خپل «غره» کې دېره شي.

شمس هغه سرود او هغه رڼا وه چې مولانا پکې دا هرڅه ولیدل. هغه د اشیاوو او هندسې تل ته ننوت، ټول یې حس او تجربه کړل او بیا له دومره تجربو سره په خپل تل واوښت.
د معنویت او کلمې شمس په وطنونو او ولسونو ګرځېده. هغه لومړنی غږ لېږداوه. دغه له خدایي عظمت څخه ډک د غږ او نور بهانده رود پر مولانا داسې پیښنه ور وکړه.

مولانا د لومړني غږ او څېرې له تجربې سره د پیړیو له زړې څرمنې راووت، مثنوي او دیوان کبیر یې هم غړول او هم ښودل او همدایې منزل شو. نور ولاړ، هغه د روح سفیر شو او د هسک په اقلیم کې هغه کور ته ورسېد، چې د خدای له زمانې یې درلود، خولا نه و پکې اوسېدلای.

د «روح سفیر» هغه نوم دی چې د اوس لپاره لرغونی حکمت (اکنکار) یې د ستر مولوي لپاره کاروي.
د اکنکار معاصر موسس پال توئیچل او دغه شان د غږ او رڼا ددغه معنوي رود ژوندی استاد سري هارولد کلمپ د زرتشت او شمس ترڅنګ، مولانا جلال الدین رومي هم د اکنکار د یوه استاد په توګه را پېژني.

فیل موري میتسو «د اک استادانو په وړاندې» کتاب کې په خپلو مکاشفاتو کې مولانا د «مستقیم انعکاس» د یوه استاد په توګه معرفي کوي.

یوه ورځ سهار مهال، چې فیل موري د خپل کارځي په لور موټر چلوي، پام یې شو واټ په هغه برخه کې چې د ریل له پټلۍ وربانديې تېرېږي، د بندېدلو په حال کې دی. دا چې وخت تنګ دی او هغه ژر رسېدلو ته بېړه لري؛ نو پر اکسیلیټر پښه ورکېښکاږي؛ خو په دې وخت کې ګوري چې له بله لوري هم یو موټر په سرعت را روان دی، د دوي ترمنځ ټکر حتمي دی، خو د سترګو په رپ کې د فیل موري موټر، د واټ ښي اړخ ته رسول کیږي. اوس نو ګواښ له منځه تللی. هغه په دې چرت کې دی، چې څرنګه له دومره غټ خطر څخه وژغورل شو؟ هغه ناڅاپه د موټر د څټ په سیټ کې خپل استاد او پیر «واه زي»ویني. واه زي هغه پوښتي «ایا رومي پېژنې؟»۱

...فیل موري له رسمي کار څخه وروسته کتابتون ته ځي او د مولانا د مثنوي کتاب انګلیسي ژباړه پیدا کوي. په دې وخت کې د هغه استاد او رومي را څرګندیږي او هغه ته د مستقیم انعکاس او د روح سفر په باب پوهه ورکوي.
«د روح سفر هغه زینه ده، چې یو سر یې په فزیکي دنیا او بل سر یې د روح په طبقه کې دی.»۲
«د روح دنیاګانې باید تجربه شي، دا د «لیدلو اوسېدلو او پوهیدلو» ټاټوبي دي.»
د موجودو اسنادو له مخې اکنکار له پیله و او دا دم د معاصر انسان په ژبه د الهي «نور او صوت» د پوهې په توګه خدمت کوي.

«روح د هر فرد د حقیقي خپل او دننۍ او سپېڅلې برخې په توګه له زیږون څخه مخکې و او د فزیکي کالبوت له مړینې وروسته بیا هم ژوند کوي. روح ددې لپاره چې له خدای څخه یوه راغلې سپرغۍ ده؛ نو هرڅه لیدلای، په هر څه پوهېدلای او هرڅه اوسېدلای شي. روح د خپل جهان خلاق مرکز دی.»۳

اکنکار ستر رومي د روح سفر د لرغونې پوهې د استاد په توګه موږ ته په نوې طریقه را پېژني. پال توئیچل له خپل تبتي استاد «ربازار تارز» سره، د روح د سفرونو په ترڅ کې، ستر شمس ویني او خپله تجربه مادي قلمرو ته را لېږدوي.

«څه وخت تېر شو چې د پراخې دښتې په افق کې څه شی را ښکاره شو، هغه پر اوښ سپور و، هغه لوی شو، ترڅو چې د یوه سړي په بڼه را څرګند شو...یو ډېر غښتلی نارینه مو ولید چې له ورنو، مټو، بدن او څېرې څخه یې خدایي ځواک څرګندېده. خوله یې د یوه خط په څېر وه، سترګې یې د ژورو سوریو په څېر وې، چې له ټل څخه یې د رضایت او خندا پرک تر سترګو کېده. ځواکمن او ښکلې لاسونه یې داسې ترسترګو کېدل، چې تا به وېل له ډبرو یې تراشلي! له انګازو په ډک اواز یې ووېل:
«زه شمس تبریز تاسو ته هرکلی وایم.»۴
شمس د معنویت دغه شاګر ته د عشق درس ورکوي، د اکنکار سپېڅلی کتاب (شریعت_کي_ سوګماد) کې راغلي
«عشق دا کنکار د نړۍ لید زړه دی»
«خدای مینه دی، ځکه مینه کوي.»۵

چې له ذهني لوبو، مانا او تفسير کولو، فرضيو او تصوراتو جوړولو تېر شو او د مولانا د سپين کلام پر اوړو د خپل ذهني بار له اېښولو ډډه وکړو او له دغه سپين ګربت سره کټ مټ مخ شو؛ نو ګورو چې که شمس نه وای؛ نو مولانا هم نه را زرغونېده؛ نو مولانا هغه وخت د بشريت رومي شو، چې د ډاکټر کريم سروش په خبره «د عشق قمار يې وواهه» او له فقهي، متشرع، مدرس او مفتي دريځ څخه «د عشق پيغمبر» شو.

شمس د عاشقۍ مرغلره هغه ته ډالۍ کړه. شمس اجازه ور نه‌کړه چې د مولوي له زړو، اندونو، باورونو، انګېرنو او علائقو څخه يو يې هم هغه له خپل فطري او ابدي سرنوشت څخه، چې هماغه د ژوندي کلام شپيلۍ کېدل و راوګرځوي. له دومره تحول وروسته و چې «د عشق پيغمبر.» د مولوي په څېره کې زوړکړه وکړه او ومنل شو.٦
اکنکار چې عشق د خپلې فلسفې او نړۍ ليد زړه بولي، د عشق زده کړه ورکوي. او دا چاره په فزيکي اسبابو نه ترسره کوي.«رښتني تعاليم له دننه او د تجربو له منځه سر را پورته کوي.»
«د استاد هدف د کور د لارې ښوول دي.»٧

اکنکار بشري علمي ذخاير، ذهني محصولات ګڼي او دا چې ذهن په خپله ماده دی؛ نو ډېرځله زموږ تعليمات هم مادي دي. اکنکار ريښتينې اګاهي ته د رسېدلو په لاره کې ( خوب ليدل، معنوي تمرينونه، فعاله مراقبه، خيال او سکوت، مستقيم انعکاس او د روح سفر) د څېزونو په توګه معرفي کوي. او دغه نه جوړېدونکې لار هغه وخت خپل شتون په ډاګه کوي چې عشق ته مخه شي.

«هغه عاشق چې زړه يې عشق په څپو راوستی وي؛ د خدای له مستۍ ډک دی.»٨
« عشق د خدای ټاټوبي ته د ورننوتلو اصلي کلي(کنجۍ) ده.»٩

اک چې ځنې عارفان يې (حق)بولي؛ مينه دی. د مينې د موندلو لپاره بايد مينه وکړو، او دا د روح د ماموريت لنډيز دی...د خدای همکارکېدل...»١٠

«کامل عشق د ازادۍ، حکمت او قدرت بشپړ ترکيب دی.»
« عشق د خدای تر ټولو غوره څېره ده. عشق ومومه؛ هغه مهال د خدای موندلی.»
ملت عشق از همه دین‌ها جداست
عاشقان را ملت و مذهب خداست
مولوي

او دا هغه څه و، چې مولانا د شمس د سترګو په بې هندسې هېواد کې وموندل او ورته تجربه شول. ډاکټر سروش دغه تجربه په «قمارعاشقانه» کې ځلولې، او اکنکار په خپلو تعلیماتو کې د انسان سرنوشت د خدای همکارکېدل او خدمت کول موندلي.

ژوند هغه تصادفي قدم نه دی، چې سرنوشت د ابدیت د پټو دیوالونو له څته په هستۍ را اینبی.
روح له الهي روح څخه را جلا شوی خالص اتم دی، چې په لاندنیو منفي پوړیو او طبقو کې د ځان پېژندنې او خدای پېژندنې تجربې تر سره کوي.

د اکنکار نړۍ لید وایي، چې خدای هر ځای، هر وخت، او په هرڅه کې شته دی؛ خو هېڅوک، هېڅ ځای او هېڅ زماني مقطع خدای نه شي کېدلای. خدای یو دی او هېڅکله تجزیه نه مني. مولوي د مکاشفې په ترڅ کې فیل موري ته وایي: «خدای یوه ګڼه شمیره نه ده، خدای یو دی، اګاهي هم یوه ده؛ نو هغه څه چې پاتې کیږي دا دي چې روح یا پر هستۍ پوهیدونکی، د هغه یوازیني په مطلقه اګاهۍ کې، د خپل حقیقي کور دروازه وټکوي، په دې توګه روح په هرڅه پوهیږي...»۱۱

موږ د خدای تجلي د نور او صوت په بڼه مومو. دا هغه تجربې دي، چې د دیني او عرفاني مخکښانو په فردي مکاشفو او حالاتو کې په ډاګه شوي.
را به شو مولانا یا هغه معنوي ځلي ته چې نړۍ یې د رومي په نامه پېژني. رومي له شمس سره د عشق له سترې تجربې وروسته د نور او صوت رود ته لاره ومونده. دیوان کبېر او مثنوي کې پیبل شوې فزیکي کلمې هغه پلونه دي، چې دغه رود پیړۍ پیړۍ وړاندې، د مولانا د اګاهۍ له لارې پورته کړي دي.

«رومي ځان هغه (نی) یا شپېلۍ لیده، چې د خدای پر شونډو ناست دی او خدای هر رنګه چې غواړي غږوي یې!»۱۲

((بشنو از نی چون حکایت مي‌کند
از جدایی‌ها شکایت مي‌کند
کز نیستان تا مرا ببریده اند
در نفیرم مرد و زن نالیده اند
سینه خواهم شرحه شرحه از فراق
تا بگویم شرح درد اشتیاق
هرکسي کاو دور ماند از اصل خویش
باز جوید روزگار وصل خویش

من به هرجمعیتي نالان شدم
جفت بد حالان وخوش حالان شدم
هرکس از ظن خود شد یار من
از درون من نجست اسرار من...» ۱۳

مولانا باید پخپله د هغه له خولې واورېدل شي. زموږ څېړنه، مانا کول، تفسیرونه، تشریحګانې، حاشیه لیکنې ډېر ځله له ذهن څخه راولاړیږي! مولانا چې کوم نی، سیند، بحر، افتاب...یادوي؛ هغه یې لیدلي او تجربه کړي. هغه د عشق د مرغلرې په موندلو سره د ټولې هستۍ او نیستۍ تجربې ته ور ووت. کومې کلمې چې مولانا د شعر په کالبوت کې موږ ته پرایښې، هغه یې د لطیفو حواسو له لارې لیدنه کړې او پخپله یې د صوت د ستر اقیانوس له عاشق څخه تر لاسه کړي. هغه په دغه عشق کې سوځي، لولپه کیږي او بېرته د نور او صوت له اقیانوس څخه راستنېږي او د شعر په لمن کې د خدای ننداره ږدي او دومره رنګین باران پر ستړي او ستومانه بشریت اوروي. مولانا د شمس له تجربې سره ولوټل شو. هغه ټول مفاخر او منصبونه بایلول او دا شېبه یوازې اقیانوس و، چې د هغه له دریڅې را بهېده.
هغه لومړني سپین خالص کلمات راوړي.
هغه له سره جهان، هستي، لمر، سمندر نوموي.

او له دې کار سره مانا او د کلمو هندسي کالبوت یوځای حرکت کوي. زموږ هلې ځلې دادي چې مولانا ترجمه کړو. موږ هغه ژوندۍ تجربه چې له بې مادې قلمرو څخه راغلې، د ذهن ماشین ته وراچوو او اسماني جنس په ځمکنیو خاورینو پېڅو ځېزونو مانا کوو؛ ځکه ژبه فزیکي او دا کلام هم فزیکي دي! زموږ پېژندنه او مسلکي پلټنه یو بل مولانا، یو ذهني مخلوق راوباسي او د فال نیولو دیوانونه پرې ډکوي.
هرکس از ظن خود شد یار من
از درون من نجست اسرار من
یا دا چې:
دل من هر دو جهان گشت و نیابید مثالش
به که ماند، به که ماند، به که ماند، به که ماند
مولوي
مولانا د عشق په تجربه کې خپل نوم، علمي او ادبي دبدبه د شاګردانو او ستایونکو پنډه زیرمه، لوی شهرت او عزت او هرڅه پرېښنول او د اګاهۍ له ابدي جریان سره وصل شو. هغه د روح سفیر شو، او له لیدلو څخه نالیدلو ته ورسېد. او د شعر په کاروان کې ځمکې ته راغی.
«بشنو از نی چون حکایت مي‌کند
ازجدایی‌ها شکایت مي‌کند...»

د روح سفر لرغونې پوهه (اکنکار)، رومي یو له خپلو استاتیدو څخه ګڼي. هغه مهال چې فیل موري په ټرافیکي واټ کې له سخت ګواښ څخه روغ رمټ راوځي، استاد یې ورته وايي «رومي په خپل وخت کې د مستقیم انعکاس په کار کې پوره برلاسی و، تا نن دندې ته د تللو په لاره کې د مستقیم انعکاس خوند ولید.»۱۴

بیا وروسته چې مولانا د یوې بلې مکاشفې په ترڅ کې د فیل موري د اګاهۍ په وړاندې را څرګندیږي؛ نو هغه ته وايي: «د روح د سفر هدف ساده دی، هغه دا چې په همدې ژوندانه کې د معنوي ازادۍ د تجربې کولو لپاره فرصت را منځته کوي...»۱۵

مولانا له فیل موري سره د خبرو په ترڅ کې د هغو وګړو تجربو ته اشاره کوي، چې دښمنانو پوره کلابند کړي؛ خو هغوی ناڅاپه تري تم شوي، چې بیا بل چېرې، د کلابندۍ له ځایه ښه ډېر لیرې واټن کې لیدل شوي، یا د شمس په څېر د تل لپاره له سترګو پناه شوي...

«واه زي» فیل موري ته وايي چې هغه د ټکر پرمهال د مولانا له خوا، د مستقیم انعکاس د هنر په مرسته ژغورل شوی. او رومي ورته رڼا اچوي چې«مستقیم انعکاس فردي مهارت دی، دا د روح سفر یوه بیلګه ده، چې د جسم او معنوي کالبوت د جلاکېدلو سبب ګرځي...»١٦

دا کنکار په مکتب کې د روح سفر، د فردي روح د ژغورنې او خدايي هېواد ته د هغه ببرته ستنیدلو اساسي چاره بلل کیږي. د روح سفر او مستقیم انعکاس توپیر په دې کې دی چې «د روح په سفر کې ستا پاملرنه له مادي کالبوت څخه یوه بل دروني کالبوت ته لېږدول کیږي.»۱۷ خو په مستقیم انعکاس کې یوازې معنوي کالبوت له فزیکي کالبوت څخه جلا کیږي.

مولانا ټینګار کوي، چې د روح سفر هدف یوازې او یوازې د معنوي ازادۍ د چارې اسانه کول دي، نه خودپرستي او د نفس راضي کول!

«دا یوازې روح دی، چې پر یوه مهال د هرڅه په باره کې مطلقه پوهه ترلاسه کوي...کله چې روح غواړي وپوهیږي، یوازې خپله پاملرنه هغې خواته اړوي او بیا په اسانۍ سره پوهیږي...»۱۸

مولانا په پای کې د معنویت دغه شاګرد ته وايي« ما مثنوي خپلو معاصرینو ته لیکی و.»۱۹

**پایله:**

اکنکار روح تر ټولو زوړ عمری خالص فردي موجود ګڼي، چې د څه باندې اته میلیونو فزیکي کلونو په ترڅ کې، د زوکړې او مرګ له ستوني تېرېږي او را تېرېږي او د ځان پېژندنې او خدای پېژندنې له تجربو سره د خدای د همکار او خدمتګار په توګه خپل اسماني کور ته بېرته ستنېږي.

«از جمادي مردم و نامی شدم
و زنما مردم به حیوان برزدم
مردم از حیوانی و آدم شدم
پس چه ترسم کی زمردن کم شوم
حمله دیگر بمیرم از بشر
تا برآرم ازملائک پر و سر
بار دیگر از ملک قربان شوم
آنچه اندر وهم ناید ان شوم» ۲۰

اکنکار فرد مسئول موجود ګڼي، چې د مینې کولو له لارې یې د روح سپین ګربت راویښېږي او له مادي نړۍ خپل (نو) پرې کوي او د الهي نور او صوت ژوندی مظهر ګرځي. او دغې پوړۍ ته هغه وخت فرد رسېږي چې د ابدیت شپېلۍ شي. ددغې لرغونې خو ژوندۍ پوهې له نظره، نور روح ته لاره ښيي، او صوت هغه په خپلو وزرو سپور الهي کور ته رسوي. ځکه نو د نور او صوت ژوندۍ او فردي تجربه د روح د بلوغ نښانې پېژني.

«بشنو از نی چون حکایت مي‌کند
از جدایي‌ها شکایت مي‌کند
کز نیستان تا مرا ببریده اند
در نفیرم مرد و زن نالیده اند
او:
هرکسي کاو دور ماند از اصل خویش
باز جوید روزګار وصل خویش...» ۲۱

د روح سفر لرغونې پوهه خدای عاشق ګڼي. د عشق اقیانوس ته یوازې په عاشقانه اراده او تلوسه ور الوتلای شو. او سړی باید په خپلو کړو وړو کې عاشق شي، چې بیا عشق ووینې، عشق واوري، او عشق یې بستر شي. د عشق موندلو

لپاره باید عشق وشي. او دا هغه مهال شونې ده، چې وګړی دومره ځان له عشق څخه ډک کړي، چې عشق ورڅخه په څپو شي.

د نیو زیلاند اوسېدونکې «وایول» د مکاشفې په ترځ کې دغه کلمې په خپل زړه کې ویني:
«...مینه د هر څه کلي (کنجی) ده. مور چې یو له بله سره مینه کوو؛ نو دا مو د خدای لپاره ډالۍ ده. خبره پر مور ده، مور ټول سپېڅلي یاستو...»۲۲
او پای هم د شیخ سعدي پردې بیت:
«آشنایان ره بدین معنی برند
در سرای خاص بار عام نیست.۲۳

پای

ماخذونه:
۱- فیل موري میتسو «درپیشگاه استادان اک»
۲- هارولد کلمپ «کودک در سرزمین وحش»
۳- سري هارولد کلمپ «ازاستاد بپرسېد جلد۲» (۳۷۴)م مخ
۴- پال توئیچل «دندان ببر» (۱۷٦)م مخ
۵- سري هارولد کلمپ «شاهین ها بازمیگردد»
٦- داکترکریم سروش «قمارعاشقانه»
۷- تادکرامر...« اکنکارحکمت باستاني برای عصرحاضر»۹۴او۸۹ مخونه
۸- ربازار تارز از استاد بپرسېد جلد۲
۹- شریعت-کي- سوګماد جلد۲
۱۰- مایک اوري «زبان سري رویاهای بیداري »
۱۱- فیل موري میتسو «در پیشگاه استادان اک» ۲۸۹ م مخ
۱۲- داکترکریم سروش «قمارعاشقانه» شپږم مخ
۱۳- مثنوي معنوي، مولانا جلال الدین رومي، د دیوان پیل
۱۴- ۱۹ فیل موري میتسو «درپیشگاه استادان اک» ۲۸۷او ۲۸۸ مخونه
۲۰- مولوي «مثنوي معنوي» دفتر سوم
۲۱- مولانا جلال الدین رومي «مثنوي معنوي» لومړی مخ
۲۲_ استادان شګفت انګیز اک_ واه زي ۱۲٦ مخ
۲۳- دیوان سعدي